د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

يکشنبه ۱۷ ذوالحجه ۱۴۴۰هـ | ۱۸-۰۸-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۱۴

## اعلاميه مطبوعاتی

# د افغانستان د مسلمانانو وينه د سولې په پروسه کې د امتياز اخيستو وسيله ګرځېدلې ده

د کابل په لوېديځ کې د يوه واده په مراسمو کې د چاودنې له امله نژدې سل کسان وژل شوي او سلګونه نور ټپيان شوي دي. **د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر** دغه چاودنه په تر ټولو سختو ټکو غندي او له الله سبحانه وتعالی څخه د وژل شوو لپاره جنت الفردوس، د ټپيانو لپاره بشپړه او بيړنۍ شفا او متضررو کورنيو ته د جميل صبر غوښتنه کوي. هر چا چې دغه وحشيانه عمل ترسره کړی، هېڅ انساني او اسلامي ارزښت ته ژمن نه دي.

د دغه وحشتناک جنايت عامل د سولې په پروسه کې د سيمې او نړۍ د هېوادونو استخباراتي رقابتونه دي چې د دا ډول حيوان صفته بريدونو په واسطه غواړي د افغانستان د سولې له کيک څخه د ځان وزونکو بريدونو او چاودنو له لارې د دغه خاورې د ملکي وګړو د وينو په بيه ډېره برخه ترلاسه کړي. لکه څنګه چې د سولې د پروسې له پيل څخه تر ننه کلي، ښارونه، مسجدونه، مدرسې، مکتبونه، پوهنتونونه، د واده او غم مراسم او نور عامه ځايونه د جګړې پر لومړۍ کرښه بدل شوي دي. په سوله کې ښکېل اړخونه د افغانستان د مسلمانانو وينې توېول په دغه پروسه کې د لازياتو امتيازونو د ترلاسه کولو وسيله ګڼي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې جګړه او سوله د امريکا او غرب د ګټو لپاره ده. هغوی د خپلو ګټو د تامين لپاره کله د سولې شعار ورکوي او کله هم د جګړې اورونه بلوي. لکه څنګه چې په وروستي ځل جمهور رييس اشرف غني په پوره بې شرمۍ سره امنيتي ځواکونو ته وويل: «نن ستاسو له برکته په واشنګټن او نيويارک کې چاوده نه کيږي. تاسو د نړيوال امنيت مسووليت لرئ.» حال دا چې په دې اړه واقعيت دا دی چې د افغانستان د مسلمانانو وينه د استخباراتي رقابتونو له لارې د واشنګټن، نيويارک، لندن، پاريس، برلين، بيجنګ، مسکو، ډيلي، تهران او اسلام آباد د ګټو او امنيت لپاره توييږي. په دې اړه په وارړ- وار امريکايي مقاماتو ويلي چې د دوی لومړيتوب په افغانستان کې د امنيت او ثبات ضمانت نه، بلکې خپله د امريکا او د هغې د متحدو هېوادونو ګټې او امنيت دي.

نو دغه وحشتناک سريال هغه وخت پای ته رسېږي چې د استعمار نظامي، فکري، سياسي، استخباراتي، اقتصادي او فرهنګي جرړې له بېخه له افغانستان څخه راوايستل شي او په هغو سوله ييزو شعارونو و نه غولېږو چې تر شا يې جګړه او ستر استعماري پروګرامونه پټ دي. دقيقاً دغه موخه هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې خاين چارواکي له واکه ليرې او کافر يرغلګر د هغوی له ټولو ډلو ټپلو سره يو ځای له دغه خاورې څخه وشړل شي او پر ځای يې د نبوت په طريقه راشده خلافت زموږ د ځېل شوو خلکو پر برخليک حاکم شي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**